

# د Oregon د پناه ځای ژمنه

## Oregon ستاسو کور دی .

YOU BELONG.

## ما اسکن کړه.

SanctuaryPromise.Oregon.gov

## له موږ سره اړیکه ونیسئ

@ORcivilrights

@ORcivilrights

YOU BELONG.

## د پناه ځای ژمنې د سرغړونو راپور ورکړئ.

**د پناه ځای ژمنې هاتلاین:**
1-844-924-7829

**د هاتلاین ساعتونه:**
له دوشنبې تر–جمعې
د سهار له 9 بجو څخه د مازیګر تر
5 بجو پورې.

که د کاري ساعتونو څخه پرته زنګ وهئ، پیغام پرېږدئ. +240 ژبو ته د ژباړې اسانتیا شتون لري. موږ واسطه یې(Relay) زنګونه منو.

SanctuaryPromise.Oregon.gov

## تاسو دلته خپل ځای لرئ.

**خوندی توب .**

تاسو حق لرئ چې په خپل ورځني ژوند کې خوندي واوسئ.

**عزت.**

تاسو د دې ټولنې برخه یاست او د درناوي وړ یاست.

**بشري حقونه.**

تاسو حق لرئ چې په سوله کې ژوند وکړئ او له خپلې ټولنې، کورنۍ او شاوخوا چاپېریال څخه خوند واخلئ.

## د پناه ځای ژمني هاټلاین ته زنګ ووهئ ترڅو:

### یو را پور جوړ کړئ

که تاسو یا څوک چې پېژنئ د د پناه ځای ژمني د قوانینو په سرغړونه کې هدف ګرځول شوی وي، راپور ورکړئ.

### موږ کولی شو

- ستاسو پخپله ژبه محرمې لارښوونې او ملاتړ برابر کړو.
- ستاسو د کډوالۍ اړوند سرچینو ته راجع کوو.
- د ایالت په استازیتوب یوه څېړنه پیل کړئ.
- له تاسو سره د بیړني مالي مرستې لپاره مرسته وکړي.
- له تاسو سره د خوندیتوب پلان جوړ کړي.

### پوښتنې وکړئ.

**باور نه لرئ چې آیا پېښه د Sanctuary قانون سرغړونه ده؟**

زموږ سره اړیکه ونیسئ، موږ به تاسو ته لارښود درکړو.

## د Oregon د پناه ځای ژمنه څه ده؟

په Oregon کې، ایالتي او محلي حکومت، په شمول د پولیسو، اجازه نه لري چې د فدرالي کډوالۍ قوانین پلي کړي، پرته له دې چې د قاضي له لوري لاسلیک شوی محکمه‌یي حکم ولري.

### د پناه ځای ژمنې د سرغړونو راپور څه وخت باید ورکړئ؟

- که پولیس له تاسو د ستاسو د ملي اصل (تابعیت) یا کډوالۍ وضعیت په اړه پوښتنې وکړي.
- که تاسو ووینئ چې ایالتي یا سیمه‌ییز حکومت یا پولیس له فدرالي کډوالۍ چارواکو سره همکاري کوي.
- که تاسو ووینئ چې پولیس د ICE سره د ترافیک درولو د همغږۍ لپاره کار کوي.
- که په بندیخانه کې یا د ازاد نظارت (probation) لاندې کسانو ته، د دوی د کډوالۍ وضعیت له مخې، خدمتونه، امتیازات یا حقوق ورنه کړل شي.
- که تاسو د قاضي له خوا د لاسلیک شوي رسمي امر پرته، په محکمه کې یا محکمې ته د تګ او راتګ پر مهال ونیول شئ.
- باور نه لرئ؟ **موږ ته زنګ ووهئ.**

## زموږ لیدلوری

Oregon یو خوندي ځای دی، چیرې چې ټولو خلکو ته هرکلی کېږي، ټول په کې شامل دي او مساوي فرصت لري چې له کرکې او تبعیض پرته وده وکړي. دلته زموږ بنسټونه د خلکو له اړتیاوو ملاتړ او ځواب ورکوي.

**Oregon په 1987 کال کې په ټول هیواد کې لومړنی ایالت و چې د پناه ځای (سنکچوري) قوانین يې تصویب کړل.**